# أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا، مَا تَقُولُ ذَلِكَ يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ؟

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي يې چې فرمايل يې: «أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا، مَا تَقُولُ ذَلِكَ يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ؟» قَالُوا: لَا يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ شَيْئًا، قَالَ: «فَذَلِكَ مِثْلُ الصَّلَوَاتِ الخَمْسِ، يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الخَطَايَا». «خبر راکړئ چي که ستاسو څخه د يو چا د دروازې په خوله کې يو نهر وي چي هغه پکې د ورځې پنځه ځلي غسل کوي، نو څه وايئ چې په هغه کي به څه خيرى پاتې شي؟» هغوی ووېل: نه هيڅ خيرى به يې پاتې نه شي، ويې فرمايل: همدا د پنځه وخته لمونځونو مثال، چې الله جل جلاله پرې ګناهونه پاکوي».

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه د کوچنيو ګناهونو په پاکولو کې د يو نهر په شان بللي دي چې د يو چا د کور په دروازه کې وي او هره ورځ پکې پنځه وخته غسل کوي، نو هيڅ خيرى به پکې پاتې نه شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4968

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee